
(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی یې پوښتنه داسې ورغبرګه کړه:

*نه، زموږ ګرانه دوسته، موږ ټول پخپله دا کار د ډېر په ښه توګه کولای شو. خدای دې نه کوي چې موږ به دومره زړه ورکېږو چې بس یوازې یوه ځانګړې کس ته ووایو چې په دودینې (یکشنبې) د سپېڅلې اروا هرکلی وکوي او نور ټول ګروهندوی (Faithful) له دغه برکته بې برخې کو.*




ولټایر انګلیکن، پریسبایټېرین او نورو ټولو دیني ډلو او ټپلو په باره کښې یو یو لیک ولیکلو. ولټایر ټول ژوند د کاتولیکې کلیسا د نَزغم او نَسهنې له تګلارې سره سخت چپ و. مګر د دې مانا دا نه وه چې هغه له دینه ببخي بې پروا و. بلکې اپوته ټول ژوند هغه مخکې و او د دین سوري ورپسې روان و.

یو ځای خو یې لا دا هم لیکلي دي: *«که چیرې خدای شته هم نه وای، هغه پېنځول شوی و.»*

(c) ketabton.com: The Digital Library



AN EARLY ENGLISH PARLIAMENT

*source: www.heritage-history.com*

که څه هم ولټایر کله کله د اینګلستان د پارلیمان په اولسي جرګې کښې د سیاستوالو په کړو وړو پوړي نرۍ نرۍ ټوکې هم کوي په تېره هغهٔ مهال کله دوي له یوهٔ بله سره په مرنۀ او شخړو سر شي. مګر ولټایر چې کوم ځیز تر به هر یوهٔ زیات ستایي هغه د اینګلستان سیاسي اداڼه ده چې کمې دستوري باچهی *(Limited constitutional monarchy)* باندې ولاړه ده.

ولټایر به ویل: له **ستر لاسونده** *(Magna Carta)* راهیسي اینګلستان په پرلپسي توګه د باچا او کلیسا له زوروا کی څخه په خپلواکي ګټلو کښې بریالي شوي دي.

اینګلستان ورو ورو د کانون له برابرۍ اود ټیکس یوې داسي اداڼې سره روږدي شو چې هیڅوک ترې ازاد نهٔ وٴ بلکې پر هرچا باندې یوشان لګېدلو. ( په فرانس کښې څو لسیزې وروسته هم پر سردارانو او ملایانو باندې د ټېکس لګونه یوه غټه مرنه وه. همدغې مرنې هغه بڅري تازه کړل چې غرغندې یې نرۍ د فرانس د اوښتنې *(Revolution)* په بڼه کښې ولیدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جېکب نیکولس موریۀ غوندي لیکوالانۀ په پۀهنګردۍ پورې تړوکي او هنکونه ولیکل او جېسوټي مسهيانۀ بيا تۀر ولګولۀ چي په پۀهنګردۍ کښې چي هرڅه ليکل شوي دي هغه له نۀرۀ سرچينۀ څخه غلا شوي دي. په کال ۱۷۵۲ کښې د ګردپۀهنې د لومړينۀ دوۀ ټوکونۀ له خپرېدلۀ وروسته د فرانس په باچا باندي دا ومنل شول او هغه اړ ايستل شۀ چي په پۀهنګردۍ باندي چورلټ بنديز ولګوي.

په کال ۱۷۵۷ کښې يوۀ جورناليسټ چي فرېرۀن نومېدلۀ د بنديزونۀ د ځانګي مشر چارواکي، مېلشربر، ته وويل چي ډيدېرۀ يو ډېر چالاک او بدنامۀ کس دي. ورته ويې ويل چي هغه د يوې ګډوالي (*Company*) د سرمير دي او د يوې داسي ټۀلنې مشر دي چي ورځ او شپه په چلونۀ او چلوټۀ لګيا ده.

په کال ۱۷۶۰ کښې پاليسوټ يو هَنک (*Comedy*) وليکلۀ. د دغه هَنک نوم ۀ، **فلسفليان،** چي روسۀ يې د يوۀ ځنګلي بيزۀ پۀ بڼه پکښې ښۀدلي ۀ او همدا شان يې هېلويټيس، ډيدېرۀ او دکلوس هم د نۀرۀ بۀدَګانۀ په بڼه ښۀدلي ول.

*هغۀ به د دغۀ فلسفيانۀ په هلکه ويل: « دغه د بېلا رې شويۀ کسانۀ يوه ټۀله ده چي ساده او وزګارې ښځې تېرې باسي او ډېرې غټې غټې باتې ولي. »*

## د کال ۱۷۵۸ کړکېچ

په کال ۱۷۵۸ کښې ديـ المبرت د پۀهنګردۍ لپاره د سويس د غورېدونکي ښار، جنېوا، چي په هغۀ وخت کښې ځان ته يو دولت ۀ، په هلکه يوه ليکنه وکوله. په دغې ليکنې کښې هغۀ ويل چي که په جينېوا کښې له تياتر څخه بنديز پورته شي نۀ دا به ډېر ښه کار وي. په همدغې ليکنې کښې هغه د دغه ښار د ملايانۀ او شيخانۀ په وچۀ وچۀ او ښخوندۀ بنديزونۀ هم نيوکې وکولې. دغۀ نيوکۀ په فرانس کښې هم ديندوسته کسان هم راوَپارول او پاي دا شۀ چي پارليمان پۀهنګرده ناکانونه کړه.

المبرت، چي د پۀهنګردۍ سريښته ګر يا (*Editor*) ۀ، اړ شۀ چي له خپلې دندې لاس په سر شي. له هغه وروسته نۀ ټۀله چاره د ښاغلي ډيدېرۀ په غاړه شوه.

په کال ۱۷۵۸ کښې چي د هېلوېټيس په ليکنې ، اروا، باندي کوم شۀر را پۀرته شۀ او په دا بل کال چي د ډيدېرۀ په پۀهنګردۍ باندي کوم بنديز ولګېدلۀ هغۀ فلسفيانۀ ته د تاوان په ځاي ګټه ورسوله. ولټاير چي هرڅومره چيغې او سورې هغوي ته ووهلې چي په يوه ګوند کښې دي وَبله راټۀل شي مګر راغوند نۀ شول. مګر اوس چي د دوښمنانۀ لخوا ورباندي زۀرنه (*Pressure*) راغله هغوي بله لاره نۀ لرله بلکې اړل ول چي وَبله يو شي. غندونکۀ هغوي د تباه کولۀ په ځاي لا نۀر هم ځواکمن کړل.

## مالېشېربېس – يا « مۀنسيور ګيلاومې»

